Social Science
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# په قران کريم او حديثو باندې د مصائبو علاج

**پوهنمل احمد عارف شهير**

اسلامي تعليماتو څانګه، شرعياتو پوهنځی، هلمند پوهنتون، لښکرګاه، افغانستان

د مسؤل بريښناليک: a.arif5911@gmail.com

**ترلاسه سوې:** ۱۴۰۵/۰۲/۰۸ **منل سوې:**۱۴۰۵/۰۴/۰۵ **خپره سوې:** ۱۴۰۵/۰٦/۳۱ **د ثبت ګڼه:**LSSAJ-3-1-02 **مخونه:**۱۸٦-۲۰۰

**لنډيز**

د مصائبو علاج په قرآني او نبوي حديثو باندې د انساني ژوند يو مهم اړخ دی چې بايد انسانان ورته پاملرنه وکړي، دا موضوع زيات اړخونه لري چې بايد انسان په هر وخت کې ورته متوجه و اوسي، دا يو څرګند حقيقت دی چې انسانان بايد د خپلو اعمالو، افکارو، اندامونو او خواهشاتو په دام کې راګير نسي، داسې اصولو ته ژمنتيا به د انسانانو ترمنځ خپل منځي ستونزي او اخروي ستونزې هواري کړي، دلته زموږ هدف ددې څېړنې څخه د مصائبو علاج په قرآن او نبوي حديثو باندې د هغو مصيبتونو پيژندل او ذکر کول دي چې انسانان ورسره لاس او ګريوان دي، زموږ د څېړنې تګلاره تحليلي او توصيفي ده چې د کتابتوني ميتود پر بنسټ ترسره سوې ده، تر څو دا واضح سي چې انساني ټولنه کې بايد انسانان د کومو ناخوالو څخه ځان وساتي ترڅو دنيوي او اخروي سعادت ئې په برخه سي.

**کليدي کلمې:** دوزخ؛ جنت؛ زړه؛ سترګې؛ غمونه؛ غوږونه؛ ژبه.

# علاج المصائب في ضوء القرآن الكريم والسنة النبوية

**الاستاذ المساعد احمد عارف شهير**

قسم التعليمات الاسلامية، كلية الشريعة، جامعة هلمند

البريد الالكتروني: a.arif5911@gmail.com

**الملخص**

يعد علاج البلايا جانبا هاما من جوانب الحياة البشرية ينبغي على الانسان أن يوليه اهتماما بالغا لهذا الموضوع جوانب عديدة ينبغي على الانسان أن يوليها اهتماما دائما من البديهي أن الانسان لاينبغي أن يقع فريسة لأفعاله وافكاره وأجساده ورغباته ان الالتزام بهذه المبادئ كفيل بحل المشاكل بين الانسان والاخرة، هدفنا هنا هو تحديد البلايا التي يعاني منها الانسان في القرآن الكريم وأحاديث النبي صلى الله عليه وسلم وذكرها، منهجنا البحثي تحليلي وصفي قائم على المنهج المكتبي لتوضيح المصائب التي ينبغي الانسان تجنبها في المجتمع البشري لكي ينعم بالسعادة في الدنيا والآخرة .

**الكلمات المفتاحية**: الجنة والنار، الأحزان، القلب، اللسان، العيون، الآذان.

## سريزه

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، ولاعدوان الا على الظالمين، والصلاة والسلام على خير خلقه سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين وبعد:

د الله جل جلاله هغه بندګان چې د نورو پرتله ئې ورته غوراوی ورکړی دی، او د خپل ځان سره د نږديوالي لپاره ئې ټاکلي دي، او الله جل جلاله د خپل علم څخه يوڅه برخه ورته ورکړي ده، او هغه کسان چې الله جل جلاله خپله د اطاعت او امر منلو لپاره غوره کړي دي، هغوی ته ئې په خپل عبادت

کولو سره عزت ورکړی دی، د خپل رب جل جلاله د فیصلو مطابق کړني ترسره کوي او د حق لاره تعقیبوي، د دوی د اعمالو څخه د پوهي خلکګ ته اخلي او د اسلامي شریعت پیروي او تقلید کوي، دوی د نړۍ رڼا او مشعلونه دي، هیڅ څوک د دوی ددې رڼاڅخه بغیر مستقیمه او نیغه لاره نسي موندلای، دوی د نړۍ په بیلابیلو څمکو کي په دندو ګمارل سوي دي چي د اسلام لور ته بشریت را وبلي، همدوی په څمکه کي ګرځي او د شتون لپاره شاهدان دي، دمصیبتونو څخه د خلاصون لپاره د خپل رب جل جلاله په اجازه را څرګند سوي دي، او هر یو يې د خپل رب العزت په اجازه غوره سوي رتبه لري، دوی په خپلو حالتونو ثابت دي، دوی د الله سبحانه وتعالی له یاد څخه غافل او بي پروا نه دي، دوی د الله جل جلاله لور ته په رابللو سره اوچت خلک دي، او د دوی زړونه او اندامونه د ایمان څخه ډک دي، دوی د ستونزو پرمهال خپل رب جل جلاله ته صبر کوونکي دي، همدا یوه لاره ده چي د ستونزو لپاره ورڅخه ګټه اخیستلای سو چي د خپل رب جل جلاله طرف ته توجه کول دي او له ګناهونو څخه ځان ساتنه ده.

## د خیړني ستونزه

مونږ په داسي ټولنه کي ژوند کوو چي ستونزي مو په الهي مرسته او کومک سره د حل او فصل وړ دي، ځکه د قرآن او حدیثو پراخه تدریس او د مسلمانانو زیاته مینه د خپل دین سره موجوده ده، د همدې موخو په لاس راوړلو لپاره مي د دې څېړني لپاره متې راونغښتل، تر څو د داسي ستونزو لپاره یوه عمیقه حل لاره پیداکړم، هیره دي نه وي چي ددې څېړني په لوستلو سره به د مسلمانانو لپاره یوه پلمه وي چي خپلو روزمره افعالو ته متوجه سي.

## د څیړني أهمیت

هېڅ یوه څېړنه د أهمیت څخه بي برخي نه ده، چي ددې څېړني د أهمیت په اړه دومره ویلای سم چي د حد څخه زیاته د أهمیت وړ ځکه ده چي د ټولني حالت ته په کتلو مي دا موضوع غوره کړي ده، مونږ که غواړو چي د اسلامي ټولني یو حقیقي انځور وړاندي کړو او ټولو ته دا جوته کړو چي د اسلام مبارک دین د هر اړخ څخه بډایه او شتمن دی هېڅ کمي او کاستي پکښي نسته همدایي لاره ده چي هرڅه په عمل کي ورته واضح کړو، ویلای سم چي ددې څېړني أهمیت له پامه غورځول به زما په ګمان د دین سره بي پروایي وي، او هرڅومره چي مونږ د دین سره نژدې اړیکه ساتو همدا به راته د دنیا او آخرت د نیکمرغیو وسیله وي.

## د څېړني موخي

داسمه ده چي د هري څېړني لپاره ځانګړي موخي او اهداف وي چي زما ددې څېړني موخي په دې ترتیب دي:

۱: د اسلام د مبارک دین په رڼاکي د ستونزو څخه خلاصون.

۲: د الله جل جلاله د دین په عملي کولو سره سمه لار موندل.

۳: د دنیا او آخرت د ښیګڼو ترلاسه کول د اسلام د دین په بشپړ عملي کولو سره.

**د څېړني پوښتني**

۱: څنګه کولای سو د اسلام د مبارك دین په رڼاکي د ستونزو څخه خلاصون پیداکړو؟

۲: هغه کوم الهي آوامر دي چي د هغوی په عملي کولو سره مستقیمه لار موندل کیږي؟

۳: د کومو اعمالو په ترسره کولو سره د دنیا او آخرت ښیګني ترلاسه کیدلای سي؟

**د څېړني اړوند مخکني څېړني**

ددې څېړني په څېر بله ورته څېړنه بغیر ددې چي یوازي په عربي ژبه کي یوه څېړنه ترسره سوي ده د هغې عنوان دی سلوة الاحزان للاجتناب عن مجالسة الاحداث والنسوان، ترسره سوي ده.

بله څېړنه په عربي ژبه ترسره سوي ده چي د (علاج الهموم) ترعنوان لاندي د (محمد صالح المنجد) لخوا ترسره سوي ده.

بله څېړنه په عربي ژبه ترسره سوي ده چي د (بشرى المحزون في تفريج الهمون) ترعنوان لاندي د (عبدالله عابد بن أحمد) لخوا ترسره سوي ده.

همدارنګه په پښتو ژبه په همدې توګه ترسره سوې څېړنې په موندلو هېڅ ونه توانیدلم، پورتنۍ څېړنه که څه هم د غمونو څخه د خلاصون لاري د قرآن او حدیثو په رڼاکي ده، ولي یوه برخه ئې زما د څېړني سره سمون لري، او زما د څېړني توپیر د هغو سره د پښتو ژبي او جزئیاتو اړوند دی.

**مواد او کړنلاره**

دا څېړنه په کتابتوني، استقرائي میتود سره ترسره سوي ده، همدارنګه دا معلومات د لومړي لاس مآخذو تفاسیرو، أحادیثو، شروحاتو او صحابه کرامو په اقوالو باندي مشتمله ده او د هر ډول بي اساسه منابعو څخه پکښي ډډه سوې ده.

**د څېړني موندني**

**الف:** د مصیبة لغوي معنی: مصیبة د مصائب، مصاوب، مصوبة مفرد صیغه ده چي د ابتلاء او امتحان په معنی دی. (الأفريقي).

**باء:** د مصیبة اصطلاحي معنی: مصیبة په اصطلاح کي د تاج العروس لیکوال د خپل شیخ څخه رانقل کړي دي (ونَقَلَ شيخُنَا في التَّوْشِيح أَنَّ أَصْلَ*! المُصِيبَةِ الرَّمْيَةُ بالسَّهْمِ). (القاموس).

اصلا د مصیبة معنی په غشو ویشتل دي.

**مصیبت د قرآن په رڼاکي**

الله سبحانه وتعالی د مصیبة په هکله په خپل کتاب کي داسي فرمایلي دي: [الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ]. [سورة البقرة : آیت نمبر 156].

ژباړه: هغه کسان چي کله ورته کوم مصیبت ورسیږي، نو وواییي: موږ د الله یوو او د هغه (الله) لوري ته ورګرځېدونکي یوو.

**په مصیبتونو باندي د صبر فضیلت**

د پیغمبر صلى الله علیه وسلم دا قول رانقلوم چي فرمایلي ئې دي: قال: عن أبي أمامة : - عن النبي صلى الله عليه و سلم قال ( يقول الله سبحانه ابن آدم أن صبرت واحتسبت عند الصدمة الأولى لم أرض لك ثوابا دون الجنة ). (القزويني).

ژباړه: أبي أمامة د پیغمبر صلى الله علیه وسلم څخه رانقل کړي دي چي الله سبحانه وتعالى فرمایلي دي: اې د آدم زویه! که ته په لومړي پړاو کي په مصیبت باندي صبر وکړي او نیت دي ثواب وي، نو زه به ستا لپاره بغیرد جنت څخه بل بدیل ونلرم، معنی ئې داسوه چي د مصیبت په لومړي پړاو کي که انسان د الله جل جلاله د رضا حاصلولو په سبب صبر وکړي الله سبحانه وتعالى به ورته جنت ور په برخه کړي، کله چي د مصیبت په پیښیدو سره او زمونږ په صبر او حوصله باندي الله سبحانه وتعالى مونږ ته جنت رانصیب کوي څومره عظیمه فیصله ده.

هغه موارد کوم چي په مصیبتونو د مبتلا کیدو لامل کیږي او مسلمانان باید ورڅخه ځان وساتي ترڅو ئې درملنه پروخت ترسره کړي وي:

**۱: د پردیو ښځو سره د ملاقات څخه ځان ساتنه**

یوه لویه او نه جبرانیدونکي ستونزه هغه د هغو نارینه وو ده چي د پردیو ښځینه وو سره مجالس کوي البته د نه هم ضرورت سته او نه هم ورسره شرعي جواز لري چي په دې هکله الله سبحانه وتعالى داسي فرمایلي دي: [قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ]. [سورة النور : آيت نمبر 30].

ژباړه: [اې پیغمبره(ص)!] مؤمنو نارینه ؤ ته ووایه: چي خپل نظر تر کنټرول لاندي وساتي او د خپلو شرم ځایونو ساتنه وکړي.

**۲: سترګي د حواسو یوازیني سرچینه ده**

د انسان په بدن کي یوازیني حس کوونکي اندام دی چي د انسان حواس ورڅخه ځرګندیږي، بغیر د الفاظو ویلو څخه، همدارنګه د نیت اظهار هم د همدې سترګو له لاري کیدلای سي بغیر د نیت څخه، همدارنګه د سترګو د حساسیت په هکله ویلای سم چي د بدن ترټولو اندامومو حساسي دي، که ووایم چي د انسان په بدن کي سترګي د لمر حیثیت لري غوره به وي، د سترګو د أهمیت په هکله ویلای سم چي د همدې سترګو د ساتلو له لاري د انسان روح او نفس ته شرف او عزت ور په برخه کیږي همدارنګه که همدغه سترګي په ناوړه اعمالو کښي استعمال سي او د الله جل جلاله د فرمان مطابق کړنه ترسره نه سي د انسان د بي عزتي سبب کیږي.

همدا سترګي دي چي د انسان لپاره د ژوند مهمه برخه ده چي په هرڅه باندي ځان باوري کولای سي، د همدې سترګو له لاري انسان د خپل روح لپاره خوشحالي، سکون او آرام رامنځته کولای سي.

د همدې سترګو په سبب سره انسان د الله جل جلاله د عبادت په ترسره کولو سره چي د الهي آوامرو عملي کول دي د خپل د نیا او آخرت خوشحالي رامنځته کولای سي.

همدارنگه د شيطاني وسوسو څخه د خلاصون لار هم د خپلو سترگو په واک کي ساتل دي چي د دنيوي او آخروي ستړياوو څخه مو ساتي، که خپلي سترگي وساتو نه يوازي د دنيا د لذاتو څخه برخمن کيږو بلکي د آخرت د ښيگڼو څخه هم برخمن کيدلای سو.

اوس پريکړه په تاسو پوري معلق ده که چيري هغو شيانو ته کتل چي بي فائدي دي ورڅخه ځان وساتي د دنيا او آخرت ښيگڼي به درته نصيب سي.

د خلاصون لار داده چي مونږ د سترگو په اړه د الهي آوامرو څخه سر غړونه ونکړو او پرځان باندي ئې په ښه توگه عملي کړو تر څو د دنيا او آخرت خوشحالي مو رانصيب سي.

**۳: د سترگو کښته ساتل**

سترگي کښته کول د زړه د آرامۍ لامل کيږي، د بدۍ مخه نيسي، د روح اصلاح کوي، د نفسي غوښتنو څخه ځان ساتنه ده، د سترگو کښته کول د خپل ذهن آرامول دي چي په همدې آرامۍ سره مونږ خپل رب جل جلاله پيژنو همدا د خپل رب پيژندنه د روغ او سالم زړه په واسطه کيږي چي د سترگو په ساتنه او کښته کيدنه سره مو زړه سالم پاته کيږي او د خپل رب پژندنه راته نصيب کيږي، دا څرگنده سوه چي خپل زړه بايد په اخلاص سره په پام کي ونيسو او د سختو مصيبتونو او سرگردانه لالهانده فکرونو څخه د خونديتوب لار همدا يوه د سترگو لار ده چي بايد وساتل سي.

**۴: ژبه د زړه نمايندگي کوي**

يحيی بن معاذ فرمايي: د انسانانو د حالاتو راسپړلو لپاره د هغوی د ژبي څخه فهم اخيستل، هغه څه دي چي د انسانانو په زړونو کي وي هغه ئې پر ژبه راڅرگنديږي په دي هکله د نبي عليه السلام ددې قول يادونه کوو: قال: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَسْتَقِيمُ إِيمَانُ عَبْدٍ حَتَّى يَسْتَقِيمَ قَلْبُهُ وَلاَ يَسْتَقِيمُ قَلْبُهُ حَتَّى يَسْتَقِيمَ لِسَانُهُ وَلاَ يَدْخُلُ رَجُلٌ الْجَنَّةَ لاَ يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ . (حنبل، 1420هـ ، 1999م).

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ترهغو چي د انسان زړه مستقيم نسي ايمان ئې نه مستقيم کيږي، ترهغو ئې زړه نه مستقيم کيږي ترڅو چي ئې ژبه مستقيمه نسي او ترهغو به يو انسان جنت ته داخل نسيی ترڅو چي دده گاونډی دده د شر څخه په امان نه وي.

**۵: جهنم ته د داخليدلو وسيله**

د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ددې قول يادونه کوو: قال: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رُضْوَانِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ لاَ يُلْقِي لَهَا بَالاً يَرْفَعُهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَاتٍ وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ لاَ يُلْقِي لَهَا بَالاً يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ. (حنبل، 1420هـ ، 1999م).

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يقينا کله به انسان يوه خبره د الله جل جلاله د رضا لپار بغير د زيات فکر کولو څخه وکړي او الله سبحانه وتعالی

به ورته لوړي درجي ورکړي او د جنت د دخول سبب به سي، همدارنګه کله به يو انسان يوه وړه خبره بغير د زيات فکر کولو څخه وکړي او د الله جل جلاله د ناراضه کيدلو سبب به سي او د جهنم مستحق به سي. (البخاري ع. ا.، 19 ربيع الأول 1427 هـ).

بل حديث مبارك دی: قال: عن أنس قال : توفي رجل من أصحابه فقال يعني رجل أبشر بالجنة فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم أو لا تدري فلعله تكلم فيما لا يعنيه أو بخل بما لا ينقصه. (الترمذي)

ژباړه: أنس رضي الله عنه فرمايي: زمونږ د ملګرو څخه يوتن وفات سو بل کس ئې په هکله وويل جنتي دی، پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هيڅ معلومه نه ده چي دې کس څومره وخت په بې ځايه خبرو تير کړی دی او څومره ئې بغير ددې چي ده ته زيان ورسيږي د بل په مال باندې بخل کړی دی، اوس څرګنده سوه چي په بې ځايه خبرو سره هم د انسان اعمال له منځه ځي او بايد ورڅخه ځان وساتو. (العلاء).

د پيغمبر صلى الله عليه وسلم بل روايت دی: قال: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ ». (النيسابوري أ. ا.، ۱۴۲۲)

ژباړه: د أبوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي په الله او په ورځ د آخرت ايمان لري هغوی دي د خير خبره کوي او يادي هم چپ پاته سي، او هغه څوک چي په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري د خپل ګاونډي خيال دي وساتي، هرهغه څوک چي په الله او د محشر په ورځ باندې ايمان لري ميلمه پالنه دي وکړي. (البغوی، 1403هـ - 1983م).

قال: عن أم حبيبة زوج النبي صلى الله عليه و سلم عن النبي صلى الله عليه و سلم قال : (كلام ابن آدم عليه لا له إلا الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر وذكر الله عز و جل ). (القزويني).

ژباړه: حبيبة رضي الله عنها چي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم ميرمن ده د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي: وايي د آدم عليه السلام د اولادې خبرې بغير ددې څخه چي په نيکيو باندې امر کول او د بديو څخه ځان ساتل دي نوري ټولي بې ځايه او بې اساسه دي.

## ٦: بې ځايه خبرې پرېښودل د حکمت غوښتنه ده

قال: عن أنس بن مالك قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : المؤمن من أمنه الناس و المسلم من سلم المسلمون من لسانه و يده و المهاجر من هجر السوء و الذي نفسي بيده لا يدخل الجنة عبد لا يأمن جاره بوائقه. (النيسابوري م. ب.، 1411 - 1990).

ژباړه: د أنس بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: مؤمن هغه څوک دی چي خلک ئې د شر څخه په امان وه، مسلمان هغه څوک دی چي مسلمانان يې د ژبي څخه په امان وه، او مهاجر او پريښودونکی هغه څوک دی چي بدې چارې ئې تر شاه پريښودلې، بيا پيغمبر صلى الله عليه وسلم قسم اخلي چي زما دې په هغه ذات قسم وي کوم چي زما روح د هغه په

واک کي دی: ترهغو به جنت ته داخل نسي ترڅو چي ئې ګاونډي ته د شر رسولو څخه ځان نه وي ساتلی. (النووي, (ــــــ).

د پورتني روايت څخه دا څرګنده سوه چي مصيبتونو څخه د خلاصون په وجه بايد د بي ځايه او بي اساسه خبرو څخه ځان وساتو.

**۷: په الهي نعمتونو شکرنه کښل د کفران نښه ده**

ټول ګناهونه چي دي هغه د اندامونو په واسطه ترسره کيږي چي اندامونه د الله تحفه ده چي انسانانوته ورکول سوي دي، او دا ټول د انسانانو سره امانت دي، که چيري په ګناهونو کي مصروف سي دا د دې الهي ستر نعمت ناشکري ده، او د الله جل جلاله ددې امانت سره خيانت کول ډېر بد دي، همدارنګه انسان په خپلو اندامونو باندي د شپون حيثيت لري لکه څنګه چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:
قال: عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ « أَلاَ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالأَمِيرُ الَّذِى عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ وَهِىَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ أَلاَ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ ». (النيسابوري أ. ا., ۱۴۲۲).

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: خبردار! تاسو هر يو د خپل رعيت د ساتني داسي مسئوليت پرغاړه لرئ لکه څنګه چي يو شپون د خپلي رمي ساتني مسئلييت لري، امير د خپل رعت د ساتني او خودي تابه مسئوليت لري، نارينه په خپل کور باندي د شپون حيثيت لري او مسئوليت ئې هم وردغاړي دی، همدارنګه ښځينه د خپلو بچو او کورنۍ شپنه ده او مسئوليت ئې ور په غاړه دی، همدارنګه غلام د خپل بادار د مال ساتني شپون دی او د ساتني مسئوليت ئې ور په غاړه دی، خبردار! تاسي ټول د رعيت او خلکو د شپنو حيثيت لرئ او بايد ورڅخه ساتنه وکړئ. (بطال, 1423هـ - 2003م).

د پورتني حديث مبارک څخه دا جوته سوه چي د انسانانو لپاره چي الله سبحانه وتعالی کوم څه ورکړي دي د هغو نعمتونو شکر ايستل په کار دي چي همدا وجه ده چي بايد انسان د مصيبتونو څخه د خلاصون علاج د خپلو اندامونو څخه را پيل کړي.

**۸: د انسان اندامونه پرانسان شاهدان دي**

الله سبحانه وتعالی د هغو بندګانو په هکله داسي فرمايلي دي کوم چي ګناهونه ترسره کوي او فکر کوي چي الله به مونږ ته سزا نه راکوي: [الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ]. [سورة يس : آيت نمبر 65].

ژباړه: نن موږ د دوی خولې په مهرولو بندوو، د دوی لاسونه به له موږ سره وغږيږي او د دوی پښې به شاهدي ووايي چي دوی په دنيا کښي څه کارونه کول.

بل ایت کې الله سبحانه وتعالی داسې فرمایلي دي: [يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ] [سورة النور : آیت نمبر 24].

ژباړه: هغوی دي هغه ورځ نه هېروي چې کله د هغو خپلې ژبې، خپل لاسونه او پښې به د هغو په کړو وړو شاهدي ووهي.

انسان باید د خپلو ټولو اوو اندامونو ساتنه په ښه ډول وکړي چې د جهنم لپاره اووه دروازې دي چې د سترګې، غوږ، ژبې، لاس، نس، فرج، پښې د هر اندام لپاره ځانګړي آداب موجود دي.

**۹: د سترګو د اړولو آداب**

د سترګو آداب دادي چې انسان باید د خپلو وروڼو د انسانیت او ښې ورورولۍ څخه لیدنه وکړي د هغوی سره د محبة او اخوة فضا رامنځته کړي، ترڅو هغوی ده ددې زړه راښکونکي کتنې څخه متأثره سي او ده وینا په په ډېر ادب او احترام وګوري لکه څنګه چې الله جل جلاله په دې هکله داسې فرمایلي دي: [وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَى مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا [سورة طه : آیت نمبر 131].

ژباړه: او د دنیوي ژوندانه هغه ځل بل ته سترګې قدري هم مه ور اړوه، چې موږ له دوی څخه راز راز خلکو ته ورکړیدي، هغه خو موږ په ازموینه کښې د هغو د اچولو لپاره ورکړي دي.

**۱۰: د اورېدلو آداب**

کله چې انسانان د نورو هغو سره مخ کیږي باید د هغوی خبرې په غور او دقت سره واوري د هغوی خبرې قطع نه کړي د هغوی خبرو ته په سپک نظر ونه ګوري د هغوی څخه خپلې سترګې بل لور ته وانه ړوي که ضرورت وو د هغه د خبرو اورېدلو څخه معذرت وغواړي ترڅو د هغه لپاره د شرم احساس پیدا نسي، ځکه چې همداسې کړنې سوي دي چې ځینې خلک د اورېدلو په سبب ازمایل سوي دي.

**۱۱: د غیبت څخه ځان ساتنه**

د غیبت او غیبت ته ورته الفاظو اورېدلو څخه ځان ساتل ضروري دي ، همدارنګه د غیبت اورېدونکي ته هم ضروري ده چې مقابل لوري ته وریاد کړي چې د بل مسلمان ورور غیبت کولو کې د هغه حیثیت ته صدمه رسیږي زه نه غواړم د هغه په هکله داسې څه واورم.

**۱۲: د ژبې آداب**

د ژبې آداب دادي چې د هغه سره په نرمه لهجه خبرې وکړو هغه ته خوښې ورکوونکي مشورې ورکړو، د هغوی لپاره په ربښتیني توګه خبرې وکړو دهغه الفاظو او جملو ویلو څخه ځان وساتو کومې چې د بل کس د نارضه کیدو لامل کیږي په خپلو خبرو کې د دروغ، غیبت، بهتان، تهمت او نورو ناوړه الفاظو د استعمال څخه ځانونه وساتو لکه څنګه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې هکله داسې فرمایلي دي: قال: قال: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَسْتَقِيمُ إِيمَانُ عَبْدٍ حَتَّى

يَسْتَقِيمَ قَلْبُهُ وَلاَ يَسْتَقِيمُ قَلْبُهُ حَتَّى يَسْتَقِيمَ لِسَانُهُ وَلاَ يَدْخُلُ رَجُلٌ الْجَنَّةَ لاَ يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ. (حنبل، 1420هـ ، 1999م).

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ترهغو چي د انسان زړه مستقيم نسي ايمان ئې نه مستقيم کيږي، ترهغو ئې زړه نه مستقيم کيږي ترڅو چي ئې ژبه مستقيمه نسي او ترهغو به يو انسان جنت ته داخل نسيی ترڅو چي دده ګاونډی دده د شر څخه په امان نه وي.

د پورتني حديث مبارک څخه دا واضح سوه چي د ژبي ساتنه د ژبي د آدابو څخه ده او بايد په سالمه توګه وکارول سي دابه نه يوازي د انسان د کرامت دساتني سبب سي بلکي د دنيا او آخرت د کاميابي وسيله به ئې وګرځي.

همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم په بل حديث مبارک کي داسي ارشاد دی: قال: عَنْ مُعَاذٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ فِي جَهَنَّمَ إِلاَّ حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ. (حنبل، 1420هـ ، 1999م).

ژباړه: د معاذ رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: مور دي درباندي بوره سي چي يوه عربي اصطلاح ده، يعني افسوس ئې ورباندي وکړ، ورته وي فرمايل: ايا تاسو ته نه ده جوته چي په جهنم کي زيات داخل سوي کسان د خپلو ژبو په سبب داخل سوي دي، مطلب ئې داسو چي د ژبي څخه رامنځته کيدونکي ستونزي ډېري زياتي دي. (البخاري ف.ا.، 1379).

همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم د هغه چا ضمانت کوي چي هغوی ددې شيانو ضمانت ورته وکړي چي ژبه او فرج دی په دې هکله د نبي عليه السلام دا قول رانقلوم: قال: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ حَفِظَ مَا بَيْنَ لِحْيَيْهِ وَبَيْنَ رِجْلَيْهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ " (البيهقي، 1423 هـ - 2003 م).

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي د خپل فرج چي د دوو ورنونو په منځ کي دی، او د ژبي چي د دوو د زامي هډوکو په منځ کي ده ساتنه وکړي جنت ته به داخل سي.

همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم داسي فرمايلي دي: قال: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مَا يَتَبَيَّنُ مَا فِيهَا يَهْوِى بِهَا فِى النَّارِ أَبْعَدَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ ». (النيسابوري أ.ا.، ١٤٢٢).

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله کله خو انسان داسی کلمات چي د هغې په مفهوم باندي ونه پوهېږي په خپله ژبه باندي ولولي چي هغه دده د جهنم د اور سبب سي چي پراخوالی ئې د مشرق او مغرب ترمنځ فاصلي څخه هم زيات دی.

**۱۳: د لعنت ویلو څخه ځان ساتنه**

پیغمبر صلى الله عليه وسلم داسي فرمايلي دي: قال: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- :« لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلاَ اللَّعَّانِ وَلاَ الْفَاحِشِ وَلاَ الْبَذِىءِ ». (البيهقي أ. ب.، 1344 هـ).

ژباړه: د عبدالله څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه کس چي چاته طعنه ورکړي، په چا باندي لعنت ووايي، فحش او بدي خبري وکړي مؤمن نه دی. (السلام، 1379هـ/ 1960م).

بل حديث مبارک کي داسي فرمايي: قال: سمعت أبا الدرداء يقول قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- « إن العبد إذا لعن شيئا صعدت اللعنة إلى السماء فتغلق أبواب السماء دونها ثم تهبط إلى الأرض فتغلق أبوابها دونها ثم تأخذ يمينا وشمالا فإذا لم تجد مساغا رجعت إلى الذى لعن فإن كان لذلك أهلا وإلا رجعت إلى قائلها ». (السجستاني).

ژباړه: راوي فرمايي: ما د ابو الدرداء رضي الله عنه څخه واوريدل چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چي يو بنده پر يو شي باندي لعنت ووايي دا لعنت ويل آسمان ته پورته سي کله چي اسمان ته پورته سي د آسمانونو دروازي ورباندي بندي کړل سي، بيرته ځمکي ته راکښته کړل سي د ځمکي دروازي هم ورباندي بندي کړل سي، بيا د لعنت کلمه راسته او چپه طرفونو ته ولاړه سي، کله چي ئې ټولي لاري بندي سي بيرته پرهغه چاباندي چي لعنت ئې ويل دی راوګرځي. (البخاري ف. ا.، 1379).

همدارنګه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم بل روايت دی: قال: عن أبي بردة بن ابي موسى عن أبيه رضي الله عنه قال قال النبي إن استطعت أن لا تلعن شيئا فافعل فإن اللعنة إذا خرجت من صاحبها فكان الملعون لها أهلا أصابته وإن لم يكن لها أهلا فكان الآخر لها أهلا أصابته وإلا أصابت يهوديا أو نصرانيا أو مجوسيا. (القاسم، 1413). ژباړه: د أبي برده رضي الله عنه څخه چي هغه ئې د خپل پلار څخه روايت کوي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسو چي څومره وس وي د لعنت ويلو څخه ځان وساتئ، ځکه که چيري لعنت په داسي څه باندي وويل سي چي هغه ئې مستحق وي هغه ته به زيان ورسيږي، او که هغه ئې مستحق نه وو نو دابه يو يهودي، نصراني او ياهم مجوسي ته زيان ورسوي.

د پورتني روايت څخه څرګنديږي چي د لعنت ويلو څخه بايد په جدي توګه ځان ساتنه وسي.

**۱۴: په نيکونو باندي فخر کول**

د غمونو او ستونزو څخه د خلاصون بله لار د خپلي ژبي په واسطه د خپلو پلرونو د هغو ناوړه کړنو باندي فخر نه کول چي په دې هکله الله سبحانه وتعالى داسي فرمايلي دي: [يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ]. [سورة الحجرات : آيت نمبر 13].

ژباړه: اې! خلکو موږ تاسي له يوه نارينه او يوې ښځي څخه پيداکړئ او بيا مو تاسي قومونه او قبيلي وګرځولئ، تر څو چي تاسي يو او بل سره وپيژنئ، په حقيقت کښي د الله په وړاندي ستاسي څخه تر

ټولو زیات عزتمند هغه څوك دی چي په تاسي کښي تر ټولو زیات پرهیزګار وي. په باوري ډول الله پر هرڅه پوهېدونکی او باخبره دی.

د ځان ښودني څخه باید ډډه وسي لاسونه باید ناوړه استعمال نه سي او د هغوی د خطراتو څخه باخبره اوسي، د مسلمانانو د ناحقه مال خوړلو څخه، د یتیم ماشوم د ناحقه مال خوړلو څخه ډډه وسي او په کل کي د ټولو حرامو څخه ځان وساتل سي.

د پورتني حدیث مبارك څخه دا واضح او ښکاره سوه چي په خپلو تیرو نسلونو او د مشرانو په افتخاراتو باندي فخر کول یاهم په خپل نسب سره فخر او ویاړ کول ددې سبب کیږي چي انسان په مصیبتونو باندي اخته کړي.

### ۱۵: د زیات خوراک څخه ځان ساتل

دا هم یو مهم اصل دی چي کله انسان زیات خوراك کوي د زیاتو مصیبتونو سره به لاس او ګریوان وي، ډېر خوراك څخه انسان باید ځان وساتي د الله جل جلاله د طرفه چي کوم احکام راغلي باید ورته پاملرنه وکړو ترڅو د حلال او حرام تفکیك وکړو د حلالو څخه خوراك وسي او د حرامو څخه ځان وساتل سي، ترڅو د انسان زړه د مړیني څخه وساتل سي، د ذهن د فساد څخه وساتل سي، همدارنګه زیات خورك کول د معدي مصروف ساتل دي چي په وسیله ئې د بدن اندامونه د عبادت او علم څخه بي پروا کیږي، او د انسان شهوات قوي کیږي، د شیطان لښکر قوي کیږي او په دروغجنو قسمونو د مال خوړلو څخه ځان ساتنه وسي: په دې هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم داسي فرمایلي دي: قال: عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ وَقَالَ هُمْ سَوَاءٌ. (النیسابوري أ. ا.، ۱۴۲۲).

ژباړه: د جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په سود ورکوونکي، خوړونکي، لیکونکي او شاهدانو باندي چي ټول یو شان دي لعنت ویلی دی. (الصغیر، 1408هـ - 1988م).

بل حدیث مبارك کي رسول الله صلی الله علیه وسلم داسي فرمایلی دي: قال: عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قال سَمِعْت رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم: قال: يقول من حَلَفَ على يَمِينٍ لِيَقْتَطِعَ بها مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَقِيَ اللَّهَ تَعَالَى وهو عليه غَضْبَانُ. (الطحاوی، 1415هـ ق،).

ژباړه: د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي: څوك چي د مسلمان مال په قسم خوړلو سره د خپل ځان کړي په داسي حال کي به د الله جل جلاله سره مخ سي چي هغه به ورباندي په غضب وي. (الأحکام، 1426 هـ - 2005 م).

### ۱٦: د خپل عفت ساتلو راز

دا یو څرګند حقیقت دی چي انسان د خپل عفت او عزت ساتنه ترڅو چي دا کړني عملي نکړي نه سي کولای: مګر داچي خپلي سترګي په واك کي وساتي، زړه له فکر کولو څخه وساتي، معده له

خواهشاتو او زيات مصرف څخه وساتي، ځکه چې همدا ځايونه دي چې داد شهوت هڅوونکي او د زېږون ځايونه دي، د خپل عفت ساتلو لپاره د ټولو هغو شيانو څخه اجتناب کول پکار دي چې الله سبحانه وتعالى ورڅخه منعه فرمايلي ده: [وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ]. [سورة المؤمنون : آيت نمبر 5].

ژباړه: او هغه (کسان) چې د خپلو شرم ځايونو ساتنه کوي.

د فرج ساتنې لپاره بله هيڅ لاره نسته بغير د سترګو د ساتنې څخه همدا د سترګو ساتنه ده چې د همدې لارې زړه د فکرونو، معده د شهواتو څخه ساتل کيږي چې په دې هکله پيغمبر صلى الله عليه وسلم داسې فرمايلي دي: قال: ما ذنب بعد الشرك أعظم عند الله من نطفة وضعها رجل في رحم لا يحل له. (فوري، 1401هـ/1981م).

ژباړه: په کنز العمال في سنن الأقوال والأفعال کې د "ابن أبي الدنيا عن الهيثم بن مالك الطائي" قول داسې دی: د الله په وړاندې د شرک څخه وروسته بله ستره ګناه نسته بغير ددې څخه چې يو کس دې خپله نطفه په هغه رحم کې واچوي چې دده لپاره حرامه کړل سوي وي. (البخاري ف. ا.، 1379).

**بحث او مناقشه**

د مصايبو علاج په قرآن کريم او حديثو باندې عنوان په اړه ترسره سوې څېړنه ددې وضاحت کوي چې د مصيبتونو څخه د خلاصون علاج په اسلامي شريعت کې تر ټولو غوره لار ده چې بايد ورته پاملرنه وسي، چې د اسلام دين ورته په غوره طريقه حل لارې وړاندې کړې دي، څېړنه ښيي ددې اصولو مراعاتول او ددې کړنو څخه ځان ساتل نه يوازې داچې د روزمره ژوند لپاره غوراوی دی بلکې د أخروي ژوند لپاره تر ټولو ښه وسيله ده او د ګناهونو څخه د ځان خلاصول د همدې لارې ترسره کيږي، په دې هکله زياتې ليکنې سوې دي، چې هر ليکوال د خپل منهج او تګلارې مطابق نوموړي عنوان تشريح کړی او ترتيب کړی دی، او په دې برخه کې ئې د خپلې ټولنې ستونزو ته په کتلو سره دا موضوعات روښانه کړې دي، موږ هم د خپلې ټولنې ستونزو ته په کتلو سره د ياد عنوان اړوند حل لارې او مسائل په ساده پښتو ژبه وړاندې کړې دي. د تحقيق د نتائجو څرګنديږي چې د مصيبتونو څخه د خلاصون لارې يوازې په تقوى او الهې مينه سره ځان ساتل دي، او همدارنګه د الهې عذاب څخه ځان ساتل يوازې په الهې أحکامو باندې منګولې لګول دي، همدا اصول مراعاتول او په ځان باندې عملي کول ددنيوي او اخروي سعادت تضمين کوي.

په څېړنه کې د مصيبتونو علاج په علمي او تحقيقي شکل سره بيان سوی دی چې د قرآن او حديثو په رڼاکې د ستونزو څخه د خلاصون لار يوازې په الهې آوامرو ځان ملبس کول دي.

په څېړنه کې د علاج لارې چارې ښودل سوې دي، لکه د سترګو کښته ساتل، ژبه د زړه استازولې کوي، بې ځايه خبرې نه کول د حکمت غوښتنه ده، په الهې نعمتونو شکر نه کښل د نعمت د کفران نښه ده،

د انسانانو ادامونه پر انسانانو شاهدان دي، دې عنوانونو په عملي توګه وښودله چي د اسلامي شریعت اصول د انسانانو د دنیا او اخرت د ژوند خوشحالي تضمینوي.

دا څېړنه تحلیلي او توصیفي ده، مګر ځیني محدودیتونه لري، هغه داچي د پخوانیو مصادرو او مراجعو څخه استفاده سوې، یواځي هغه موارد چي انسان په روزمره ژوند کي ورسره زیات لاس او ګریوان دی روښانه سوي دي.

دا موضوعات نه یوازي داچي د انسانانو په روزمره ژوند کي د ګټي اخیستني وړ دي بلکي تر ټولو غوره ئې د أخروي ژوند په نظر کي نیول دي. د ټولني انسانان کولای سي د دې اصولو په مراعاتولو سره خپل ژوند نیکمرغه کړي. دا موضوعات ډېر زیات دي چي باید ورته پاملرنه وسي، نور څېړونکي کولای سي چي په دې برخه کي نور زیات کار وکړي، ترڅو د ټولني ستونزي په دې برخه کي نور هم حل سي.

**پایله**

د دې څېړني په وروستی کي زه د څېړني هغه لنډي پایلي ذکر کوم، چي د لیکني په دوران کي ورته رسیدلی یم:

۱: ، د دنیوي مصیبتونو څخه ځان ساتنه یوازي په الهې آوامرو باندي عمل کول دي.

۲: د ټولني لپاره علاج د هغوی په الهې آوامرو ځان ملبس کول دي ترڅو د مصیبتونو څخه خلاصون ومومي.

۳: د خپلو اعمالو دار او مدار ته متوجه کیدل د ستونزو څخه خلاصون رامنځته کولای سي.

۴: د اسلام د مبارک دین لور ته بلنه هم د ګناهونو څخه ځان ساتنه ده چي په سبب ئې مونږ کولای سو خپلي ورځنۍ چاري ددې چترۍ لاندي په آرام او سوکالۍ سره تیري کړو.

۵: د نبوي ارشاداتو په رڼاکي کولای سو خپل ژوند ته هوساینه ورکړو.

٦: د مصیبتونو څخه خلاصون او علاج یوازي او یوازي په الهې نصرت سره ترسره کیږي.

۷: د انسانانو لپاره دا بهتره ده چي خپلي ستونزي په الهې ارشاداتو سره حل او فصل کړي.

۸: د مصیبتونو په وجه د انسانانو حالت د ستونزو سره لاس او ګریوان کیږي.

**وړاندیزونه**

هره څېړنه د ځانګړي وړاندیزونه لري، زمونږ د څېړني وړاندیزونه په لاندي ډول سره دي:

۱ــ څېړونکي او علماء کرام باید الهې او نبوي ارشاداتو ته زیاته پاملرنه وکړي تر څو د الله جل جلاله د رضا حاصلول ورته آسانه سي.

۲ــ د مصیبتونو څخه د خلاصون لاري، عنوان باندي باید څېړونکي زیاتي علمي او تحقیقي څېړني ترسره کړي.

۳ــ د مصیبتونو څخه خلاصون د هر انسان دنده ده چي باید ورته جدي پاملرنه وکړي.

۴ــ که څوک غواړی چي د مصیبتونو څخه ځان و ژغوري الهې أحکام دي په ځان عملي کړي.

**اخځلیکونه**

القرآن الكريم

۱: الأحكام, إ. ا. (1426 هـ - 2005 م). تقي الدين أبو الفتح محمد بن علي بن وهب بن مطيع القشيري ، *المعروف بابن دقيق العيد* (۱ ټوک). مؤسسة الرسالة.

۲: الأفريقي, ا. م. (نیټ نشته). *لسان العرب* (۱۵ ټوک). بيروت ، دار صادر.

۳: البخاري, ع. ا. (19 ربيع الأول 1427 هـ). بدر الدين العيني الحنفي (۳٦ ټوک).

۴: البخاري, ف. ا. (1379). أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي (۱۳ ټوک). بيروت: دار المعرفة.

۵: البغوى, ش. ا. (1403هـ - 1983م). الحسين بن مسعود البغوي (۱۵ ټوک). بيروت: المكتب الإسلامي - دمشق.

٦: البيهقي, أ. ب. (1344 هـ). *السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي* (۱۰ ټوک). حيدر آباد: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند.

۷: البيهقي, أ. ب. (1423 هـ - 2003 م). *شعب الايمان* (۱۴ ټوک). الهند: مكتبة الرشد للنشر والتوزيع بالرياض بالتعاون مع الدار السلفية ببومباي بالهند.

۸: الترمذي, ا. ا. (نیټ نشته). محمد بن عيسى أبو عيسى الترمذي السلمي (۵ ټوک). بيروت: دار احياء التراث العربي.

۹: السجستاني, أ. د. (نیټ نشته). *سنن أبي داود* (۴ ټوک). بيروت: دار الكتاب العربي.

۱۰: السلام, س. (1379هـ/ 1960م). محمد بن إسماعيل الأمير الكحلاني الصنعاني (۴ ټوک). الحلبي: مكتبة مصطفى البابي.

۱۱: الصغير, ا. ب. (1408هـ - 1988م). الإمام الحافظ زين الدين عبد الرؤوف المناوي (۲ ټوک). الرياض: مكتبة الإمام الشافعي.

۱۲: الطحاوى. (1415هـ ق،). *مشكل الاثار* (۱۵ ټوک). بيروت: مكان النشر لبنان.

۱۳: العلاء, ا. م. (نیټ نشته). *تحفة الاحوذى بشرج جامع الترمذي* (۱۰ ټوک). بيروت: دار الكتب العلمية.

۱۴: القاسم, س. ب. (1413). الدعاء (۱ ټوک). بيروت: دارالكتل العلمية.

۱۵: القاموس, ت. ا. (نیټ نشته). محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني ، (۴۰ ټوک). دار الهداية.

۱٦: القزويني, ا. ،. (نیټ نشته). *سنن ابن ماجه* (ج:۲ ټوک). بيروت: دار الفكر.

۱۷: النووي, أ. ز. ((ــــ). *المجموع شرح المهذب* (۲۰ ټوک). بيروت: دارالفكر.

۱۸: النيسابوري, أ. ا. (۱۴۲۲). *صحيح مسلم* (8 ټوک). بيروت: دار الجيل بيروت + دار الأفاق الجديدة.

۱۹: النيسابوري, م. ب. (1411 - 1990). *المستدرك على الصحيحين* (۴ ټوک). بيروت: دارالكتب العلمية.

۲۰: ابن ماجه، مغلطاي بن قليج بن عبد الله البكجري المصري الحكري الحنفي، أبو عبد الله، علاء الدين، (1419 هـ - 1999 م)، *شرح سنن ابن ماجه*، مكتبة نزار مصطفى الباز.

۲۱: الزرقاني، محمد بن عبد الباقي بن يوسف الزرقاني، (1411). *شرح الزرقاني على موطأ الإمام مالك*، دار الكتب العلمية، بيروت.

۲۲: السيوطي، عبدالرحمن ابن أبي بكر أبو الفضل السيوطي، (1406 - 1986). *شرح السيوطي لسنن النسائي*، مكتب المطبوعات الإسلامية.

۲۳: الطحاوي، أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي، (1408هـ - 1987م). *شرح مشكل الآثار*، مكان النشر لبنان.

۲۴: المباركفوري، أبو الحسن عبيد الله بن محمد عبد السلام بن خان محمد بن أمان الله بن حسام الدين الرحماني، (1404 هـ ، 1984 م). *مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح*، إدارة البحوث العلمية والدعوة والإفتاء.

۲۵: السندي، نور الدين بن عبدالهادي أبو الحسن السندي، (1406 - 1986). *حاشية السندي على النسائي*، مكتب المطبوعات الإسلامية.

۲۶: ابن الجوزي، أبو الفرج عبد الرحمن ابن الجوزي، (1418هـ - 1997م). *كشف المشكل من حديث الصحيحين*، دار الوطن - الرياض.

۲۷: بطال, ش. ص. (1423هـ - 2003م). أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك بن بطال البكري القرطبي (۱۰ ټوک). الرياض: مكتبة الرشد - السعودية.

۲۸: حنبل, أ. ب. (1420هـ ، 1999م). *مسند الإمام أحمد بن حنبل* (۵۰ ټوک). موقع الإسلام: مؤسسة الرسالة.

۲۹: حاتم, م. ب. (1397 - 1977). *روضة العقلاء ونزهة الفضلاء* (۱ ټوک). بيروت: دارالكتب العلمية.

۳۰: فوري, ع. ا. (1401هـ/1981م). *كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال* (۱۶ ټوک). مؤسسة الرسالة.

.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:3 Issue: 1 Year:1405